ليکوال: سلام خان نېټه ۱٤-۰۱-۲۰۱۱

# د پاکستان لاس ورځ په ورځ په افغانستان کې اوږدېږي



وکابل ته دهند دبهرنیو چارو دوزیر(کرشنا) سفر په داسی حال کی صورت نیسي چی په رسنیو کی داسلام اباد، مخالفینو او دکابل دحکومت تر منځ دخبرو آوازو ښه زور اخیستي دي، که څه هم نوي ډهلي اوس له طالبانو سره دافغان دولت دمشروطی موافقی ملا تړ کوي هغه دی شرط چی طالبان به له افغان حکومت سره دیو ځای کیدو په صورت کی په سیمه کی دهند وګټو ته زیان نه رسوي، ولی بیاهم دطالبانو دیوځای کیدو موضوع تر ډیره حده دهند اندیښنه را پارولی ده او نوي ډهلی ویره لري چی که طالبان دافغانستان په حکومت کی شریک شول احتمال لرې دافغانستان په حکومت کی دپاکستان رول او نفوذ زیات شي.
د هند د بهرنیوچارو وزیر چې تیره اوونی د دو ورځو لپاره افغانستان ته په سفر تللی و و، دروحی ویب پاڼی دراپور په اساس نوموړی په یوه مطبوعاتی کنفرانس کی وویل، چې په افغانستان کې حالات د اندېښنې وړ دي، طالبان د یو شمېر نورو افراطي ډلو لکه لشکر طیبه لپاره د یوه چتر بڼه غوره کړې او د انتقال په دوره کې د پاکستان لاس ورځ په ورځ په افغانستان کې اوږدېږي، چې د امریکایي ځواکونو له وتلو سره به په افغانستان کې د هند سرخوږی نور هم زیات شي.
د هند د بهرنیو چارو وزیر اس ام کرشنا په کابل کې دیوه مطبوعاتی کنفرانس په طرځ کی وویل، چې هېواد یې د سولې لپاره د افغان دولت له روانو هلو ځلو ملاتړ کوي، خو په دې برخه کې بهرنۍ لاس وهنه به په دې بهیر ښې اغیزې ونه لرې، هندي چارواکې په افغانستان کې د پاکستان د نفوذ له زیاتیدو په ویره کې دي او برعکس پاکستان هم د کابل او دنوې ډهلي تر منځ د اړیکو پیاوړتیا په خپل زیان بولي، هند په کابل کی په سفارت سربیره په جلال ابد، کندهار، مزارشریف او هرات کی کونسلګری هم لرې او پاکستان بیا په افغانستان کی دهند د کو نسلګریو زیاتوالي په افغانستان کی دخپل ملی امنیت په زیان بولي له همدی خاطره یی افغانستان ددواړو هیوادونو داستخباراتی رقابتونو دجنګ پرمیدان بدل کړې دي.
که څه هم دافغانستان دسولی دشوراه هیئت په افغانستان کې دسولې په تامینولو کې دپاکستان رول ګټور بولي ولی په افغانستان، پاکستان او لویدیځو هیوادو کې ځینوکړیو څوځلې ویلي دي چې پاکستان په افغانستان کې دهغه هیواد ددولت دمخالفو ډلو په جوړولو او وده کې رول لري.
د افغان ځواکونو لوی درستیز جنرال شیرمحمد کریمي چی څوورځی مخکی کندهارو ولایت ته په سفر تللی ؤ د هغه ولایت له پوځي او ملکی لوړ پوړو چارواکو سره په یوه لیدنه کتنه کی وویل: (زموږ ستونزه له ګاونډیانو سره ده، که زموږګاونډیان را سره همغږي وي ستونزه نه لرو)، نوموړی داڅرګندونی په داسی حال کی کړي دې چی دکندهار دولایت داستخباراتی چارواکو په راپورونو کی ویل شوي دې چی دګاونډی هیواد پاکستان دبلوچستان ایالت په کوټه او چمن کی په نوی کال کی پر افغانستان دبریدونو پراخ پلانونه دجوړیدو په حال کې دي او اورپکی ډلی دمګړې دخپلو چریکانو په روزنه بوختی دې او دجنګ جګړی نوی تاکتیکونه ور ښودل کیږي او په مختلیفو وسلو سمبالیږې چی راروان کال به افغانستان ته دجګړو لپاره را واستولی شي.
په تازه راپورونه کی راغلي دی چې په پاکستان کې په ۱۱۱ بابه دینې مدرسو او په ۳۱۳ نورو مرکزونو کې او د چمن په ښار ګوټي کې په ۲۳۷ مرکزونو کې ترهګرو ته زدکړې ور کول کیږي، اوس هغوِي ته مسلکې زدکړې او نوې تکتیکونه ښول کیږي تر څو را روان کال د افغانستان د اسلامي جمهوریت او په ایتلافي ځواکونو بریدونه تر


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سره کړی.
دجنوری دمیاشتی په اتمه نیټه یوی میرمنی د( زابینه زیبولډ) په نامه د رائټرز خبري آژانس لپاره د پاکستان د کړکیچني وضعي په هکله یوه تبصره کی لیکلي دي چي پاکستان دبارودو په ډیپو ناست دچاودیدو په حال کی ده.
ښايي پاکستان د نړۍ يوازنی هیواد وي چي په زښته زياتو ستونزو کي بيا هم د ځان ساتلو او ولاړ پاته کېدلو اوږده تجربه لري. پاکستان چي په ۱۹٤۷م مېلادي کال د هند څخه بېل سو نو هغه وخت لا ورته د بارودو د ډول يا بېرل په توګه کتل کېدل او تر ننه ورته کتل کیږي. پاکستان چي د نړۍ دويم ستر مسلمان هیواد دی او ۱۷۰ مليونه انسانان پکښي اوسي هغه وخت ورته د نړۍ د خطرناک ترینه هيواد نوم ورکول سو کله چي يي اټومي وسله جوړه کړه. خو لوېديځه نړۍ بيا هم دې ته مجبوره ده چي ددغه هیواد سره ګډ کار وکړي چي د ناکامی پر څنډه ولاړ دی.
د پاکستان استخباراتي اداره آی ایس آی هغه پیاوړې اداره ده چي په اتيايمه مېلادي لسيزه کي يي د شورويانو پر ضد او د لوېديځوالو په ملاتړ افغان جهادي تنظيمونه جوړ کړل او وروسته يي طالبان جوړ او پر افغانستان واکمن کړل. له همدې وجي پاکستان د افغانستان د کړکېچ په هواری کي ډېر مهم ګڼل کيږي. خو زيات کارپوهان پدې آند هم دي چي پاکستان په خپله د افغانستان د کړکېچ يوه برخه يا عامل دی. په څو څو ځله د پاکستان پر استخباراتي ادارې آی ایس آی دا تور لګول سوی دی چي بعضي کړی يي د وسله والو طالبانو سره مرستي کوي خو هغه خبره چي لمر غوندي روښانه ده هغه دا ده چي پاکستان به په کابل کي هيڅکله داسي يو حکومت ونه مني چي د ده تر اغېز لاندي نه وي. د لسيزو راهيسي د اسلام آباد واکمنان د خپل هيواد برخليک د افغانستان سره تړلی بولي. نوموړی هيواد د دې څخه بيريږي چي دُښمن هيواد او اټومي واک هند د افغانستان څخه د پاکستان پر ضد ګټه وا نه خلي. پاکستان چي د پراختيا له مخي د هند په پرتله ډېر کوچنی دی د ستر هند او د افغانستان د ملګری څخه بيريږي.
د پاکستان او افغانستان پر پوله پرتي قبايلي سيمي په پښتنو آبادي دي چي له يوې خوا په افغانستان کي د لاسوهني پر وخت پاکستان ځندي کار اخلي او له بلې خوا د تره ګری په وړاندي په جګړه کي يي بهرني ځواکونه د سترو ستونزو سره مخامخ کړي دي. امريکا همېشه پر پاکستان فشار راوړی دی چي په دغو سيمو کي د وسله والو توندلارو پر ضد سخت ګامونه پورته کړي.
شمالي وزيرستان چي د حقاني د ډلي مرکز بلل کيږي په افغانستان کي امريکايي ځواکونو په بريا کي لوی خنډ بلل کيږي. د حقاني ډله چي د افغانستان د وسله والو طالبانو او د القاعدې سره اړيکي لري د متحده ايالتونو ستره دښمنه ډله بلل کيږي. دا چي پدغه سيمه کي د پاکستاني پوځ لخوا د پوځي عملياتو غوښتنه د امريکا لپاره څومره مهمه ده ښايي آصف علي زرداري به يي د راتلونکي اونی د امريکا د سفر پر وخت احساس کړي. اټکل کيږي چي و امريکا ته د زرداري د سفر پر وخت به اوباما پر هغه فشار واچوي چي په شمالي وزيرستان کي ژر تر ژره پوځي عمليات پيل کړي.
د اټومي واک پاکستان په هکله هغه وخت د لوېديځوالو اندېښني بيا راتازه سوې کله چي په اسلام اباد کي يوه اسلامپاله کس د پنجاب ايالت ليبرال والي سلمان تاثير ووېشتی. په رسنيو کي داسي انځورونه خپاره سوه چي وکيلانو د محکمي څخه دباندي و قاتل ته د ګلونه امېلونه ورپه غاړه کول او د هغه د خوشي کېدو غوښتنه يي کوله. په پاکستان کي د اسلامپاله توندلارۍ په هکله په لوېديځ کي زياتي اندېښني موجوده دي چي دا نه چي د پاکستان اټومي وسلې د توندلارو په لاس ورسي.
د دې تر څنګ د پاکستان هيواد د سختو اقتصادي ستونزو سره مخامخ دی. دغه ستونزې هغه وخت لا زياتي سوې کله چي يو ستر سيلاب پدغه هيواد کي تر لسو بليونو ډالرو څخه زيات تاوانونه رامنځ ته کړل. د خپل ګاونډي هيواد هند سره هم د پاکستان اړيکي خړي پړي دي او ښايي وضعه هغه وخت لا زياته کړکېچنه سي که د ګواښ سره سم پاکستاني توندلاره ډلي يو ځل بيا په هند کي تره ګر بريدونه تر سره کړي.
د افغان حکومت سره هم د پاکستان اړيکي ندي ښې ولي چي افغان حکومت پر بعضو پاکستانيو کړيو تور لګوي چي د افغانستان د وسله والو مخاليفينو سره مرستي کوي. پدې ترڅ کي کرزي د ناټو څخه هم غوښتنه کړې وه چي په پاکستان کي د وسله والو ځالی په نخښه کړي.
همدا راز د امريکا لوی درستيز مايک مولن وړمه ورځ په واشنګټن کی په خپلو خبروکی **پاکستان د نړيوال تروريزم د ثقل مرکز وباله** خو ډاډه دی چي د پاکستان پوځ پوهيږي چي د دغه خطر د ختمولو لپاره بايد څه وکړي، مولن په عين حال کی ويلي دي چي په افغانستان کی د برياليتوب لپاره بايد په پاکستان کی دترهګرو خوندي پناه ځايونه له منځه يوړل شي مونږ په افغانستان کی تر هغو نه شو بريالی کيدای چي دامر کزونه له منځه نه وی تللی. مايک مولن داهم ويلی دي چي په افغانستان کی به روان ميلادی کال ناکرار او ډير خونړي وي دا بايد ديوی ستونزی په توګه ومنو چي مونږ بايد په را روانو مياشتو کی نورو تلفاتو ته اماده اوسو دافغانستان په ځينو سيموکی به تاوتريخوالی ډير زيات وي.
دافغانستان له سفره وروسته د امريکا د ولسمشر بارک اوباما مرستيال جوبايډن په اسلام اباد کې د پاکستان له سياسي او پوځي مشرانو سره وکتل، بايډن په اسلام اباد کی دخبری کنفرانس په ترڅ کی چی دپاکستان صدراعظم هم حضور در لود وويل چی دبنسټ پا لو پر ضد مبارزه بايد زور واخلي بايدن همدا راز ويلي دی چی سخت دريځی يواځی


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

دامریکا او نړی لپاره نه بلکی دپاکستان لپاره هم یو لوي ګواښ دې، القاعدی که په امریکا کی ۳۰۰ تنه بی ګناه خلګ وژلی دي نو په باکستان کی یی هم په زرګونو خلګوته مرګ او ژوبله اړه ولی ده پاکستان باید په دی پوه شی چی بنسټ پالو په باکستان کی پناه ځایونه جوړ کړی دې او خوندی مر کزونه لري، بایډن پاکستان دامریکا ډیر نژدی دوست او له همکارو هیوادو ځخه بللي دي نوموړي دپاکستان سره دمالی مرستو یادونه هم کړې ده.
**دواشنګټن اېګزامېنر ورځپاڼه دراپور پراساس د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر د ۱۱می نه راو روسته دامرېکا متحده اېالاتو پاکستان ته تر ۱۵ بلیونو ډالرو نه زیاته مرسته ددې لپاره ورکړېده چی په سېمه کې له ترهګری سره مبارزه وکړی، تیر کال داوباما اداری تر ۵۰۰ میلونه ډالرو نه زیاته مرسته پاکستان ته ددې لپاره ور کړله چی دپاکستان له خلګو سره نژدی او دوستانه آړیکی پیدا کړي.**
**خو دواشنګټن اېګزامېنر ورځپاڼه لېکی چې سره له دې هم کله چې د افغانستان او پاکستان ستراتېژي د سپېنی مآنی له خوانه د تېرکال په ډېسېمبرکې خپره شوله، په هغی کې دا لېکل شوی وو چې تراوسه پورې لاهم د پاکستانېانو په منځ کې دامرېکا په هکله بې اعتباری او کرکه په پراخه کچه موجوده ده،همداراز دسیاسی چارو ډېر کارپوهان په دی نظر دې چې پا کستان ته به دا ډول سفرونه او مرستی ولو په هره سطح او اندازه وی هیڅ ګټه ونه لرې تر ځو چی دپاکستان څار ګره نظامی اداره (ای، ایس، ای) په افغانستان کی له مداخلو لاس وانه خلې، او دپاکستان دملکی اداری دمقاناتو خوشبنیو ډکی څرګندونی او تعهدات دهغه هیواد په نظامی استخباراتو (ای، ایس، اي) په ناوړه دریځ باندی هیڅ نوع تا ثیر نه لرې.**

پاي


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ